# Computer Learning in Pashto

## د کمپیوټر زده کړه په پښتو ژبه





2020

1399

Ketabton.com



لیکنه او ترتیب :

استاد جعفر هاشمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# TABLE OF CONTENTS

Computer Definitionد کمپیوټر تعریف .......... 4
Advantages of computerد کمپیوټر ګټې .......... 4
Weakness of Computer د کمپیوټر کمزورتیاوي .......... 6
Using of Computerد کمپیوټر استعمال .......... 7
Computer Generationد کمپیوټر تولید .......... 10
Types of computerد کمپیوټر ډولونه .......... 11
Computer Function د کمپیوټر دندي .......... 13
Computer Componentsد کمپیوټر برخي .......... 14
Keyboard .......... 15
Mouse .......... 16
Joystick .......... 17
Light pen .......... 17
Track ball .......... 18
Scanner .......... 18
Digitizer .......... 18
)Micro phone( .......... 19
Barcode Reader .......... 20
Optical mark reader OMR .......... 20
Central Processing Unitمرکزي پروسیس کوونکی واحد .......... 21
ALU .......... 21
Memory or Storage Unit .......... 21
Control Unit .......... 22
Output Unitراکړیزي برخي .......... 22
Monitor .......... 23
Flite panel Display .......... 24
Printer .......... 25
Computer Memories د کمپیوټر ذخیري .......... 27
Cache Memory .......... 27
Primary memory or RAM: .......... 28
Secondary Memory .......... 29
Computer Memory Unitsد کمپیوټر د میموري واحدات .......... 30
Computer Mother Boardد کمپیوټر مادر بورډ .......... 31

Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

Two Big Parts of Computer د کمپيوټر دوه لوی برخي ........ 32
Hardware ........ 32
Software ........ 33
System Software او Application Software ........ 33
System Software ........ 33
Application Software ........ 34
Relationship Between Hardware and Software د هارډوير او سافټوير اړيکه ........ 35
Computer Number System د کمپيوټر د اعدادو يا شمير جوړښت ........ 35
Convert Decimal to binary and binary to Decimal د اعدادو بدلول ........ 36
Computer Data and Information د کمپيوټر ډيټا او معلومات ........ 37
Data Processing Cycle د ډيټا د پروسيس جريان ........ 38
Computer Networking د کمپيوټر انټرنيټ ........ 39
Internet and Intranet انټرنيټ او انټرانيټ ........ 42
Computer Operating System د کمپيوټر چلوونکی سيسټم ........ 43
دOperating System يا OS.دندي په لاندي ډول دي ........ 44
Types of Operating System د چلوونکي سيسټم ډولونه ........ 45
Microsoft Windows OS ........ 46
Mac OS X ........ 47
Linux ........ 47
Mobile Operating System ........ 48
OS Services د چلوونکي سيسټم خدمات ........ 49
Threat تهديد يا خطر ........ 51
Computer Threats د کمپيوټر تهديد کوونکي ........ 52
Computer Viruses د کمپيوټر وايروس ........ 53
- Computer Related Jobs د کمپيوټر سره تړلي دندي ........ 55
Windows 8.1 installation from CD له سي ډي څخه د وينډو انسټال ........ 56
Windows installation from USB ........ 64
Making Bootable USB for Windows 10-8.1-7 ........ 71
Windows 10 Instalition from USB ........ 79
Book References د کتاب ماخذونه ........ 89

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## Computer Definition    د کمپیوټر تعریف



اوس مهال په نړۍ کي ډیر زیات معلومات او داسي شیان موجود دي چي په کمپیوټر پوري تړلي دي نو له همدي امله مونږ ته اړینه ده تر څو په کمپیوټر پوهه شو او یا یي وپیژنو.

د کمپیوټر تعریف : کمپیوټر یو بریښنایز او په معلوماتو یا (Data) باندي پروسیس کوونکی ماشین دی کوم چي معلومات د (Input) په توګه اخلي او هغه ورکړل شوي معلومات له ځأن سره (Store) یا ذخیره کوي او همدارنګه (Process) یا عملیه ورباندي ترسره کوي او له (Process) وروسته یي (Output) یا (Information) ته بدلوي.

## Advantages of computer    د کمپیوټر ګټي

**(Speed)** یا سرعت : کمپیوټر یو ډیر تیز یا چټک ماشین دی دا ماشین ددي وړتیا لري تر څو په یو غټ مقدار (Data) باندي په ډیر لږ وخت کي محاسبه وکړي . کمپیوټر د خپل (Speed) یا سرعت داندازه کولو واحدات لري چي عبارت دي له مایکرو سیکنډ، نانو سیکنډ، او پیکو سیکنډ . څخه کمپیوټر د خپل تیزوالي له امله په میلیونونه محاسبات په څو ثانیو کي ترسره کوي په داسي حال کي چي انسان ددي قیسمه عمل د ترسره کولو لپاره زیات وخت ته اړتیا لري.

**(Accuracy)** یا دقت : ددي تر څنګ چي کمپیوټر ډیر لوړ سرعت لري ډیر زیات دقت هم لري . هر قیسم محاسبات 100% له غلطیو څخه پاک ترسره کوي . په دي صورت کي چي ورکړل شوي (Data) یا معلومات درست یا صحیح وي.

Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(Storage Capability)** د ساتلو یا ذخیره کولو قابلیت : (Memory) یا حافظه د کمپیوټر یوه مهمه ځانګړتیا ده او همدارنګه کمپیوټ له انسان څخه زیات د ذخیره کولو قابلیت لري .
کمپیوټر دا وړتیا لري تر څو زیات شمیر معلومات له ځان سره ذخیره کړي یا یې وساتي .
کمپیوټر هر ډول (Data) یا معلومات له ځان سره ذخیره کوي لکه : (Pictures) (Adios) (Videos) (Text) یا لیکنه او داسې نور..

**(Diligence)** یا زیارکښ : کمپیوټر هیڅ ډول ستړیا نه لري او همدارنګه کمپیوټر کولی شي یو کار په جاري ډول ترسره کړي په غیر له کومې غلطۍ او ستړیا څخه او همدارنګه کمپیوټر کولی شي یو کار په بیا بیا ځلي یا یو کار په تکراري ډول په پوره دقت او سرعت ترسره کړي .

**(Versatility)** یا د بدلیدلو قابلیت : کمپیوټر یو هر اړخیز ماشین دی کمپیوټر کولی شي په یو وخت کې څو وظیفې ترسره کړي مثال : لکه په یو وخت کی یو پروسیس ترسره کول او دهغې تر څنګ د تاش یا پټې (Game) یا لوبه کول.

**(Reliability)** یا د باور وړ : کمپیوټر یو د باور وړ ماشین دی او په دې ماشین کې عصري یا اوسني بریښنایز وسایل یا پرزې زیات ژوند یا دخرابیدلو وخت یې زیات دی . او همدارنګه کمپیوټر داسې (Design) شوی یا جوړ شوی چې ساتنه یې او په هغه کې بدلون راوستل اسانه دي .

**(Automation)** یا اتومات : کمپیوټر یو اتومات ماشین دی . اتوماتوالی عبارت دی له هغې وړتیا څخه تر څو ورکړل شوې دنده په اتومات ډول ترسره کړي لکه . کله چې مونږ کمپیوټر ته یو پروګرام داخل کړو یا یې (Input) کړو هغه پروګرام پرته زمونږ له لاسوهنې د کمپیوټر په (Memory) کې ذخیره کیږي او بیا پروګرام او (Instruction) یا لارښوونې د ورکړل شوي پروګرام (Execution) یا چلیدل کنټرولوي .


له ځان سره حساب وکړئ مخکې له دې څخه چې الله (ج) درسره حساب وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(Reduction in paper Works and Cost)** یا په پاڼو باندي کار او د هغي مصارف راکمول : په یو دفتر کي کمپیوټر ددي لپاره استعمالیږي تر څو په پاڼو یا ورقو باندي د لیکلو کار راکم او روانه پروسه چټکه شي . او همدارنګه مونږ وخت په وخت کولی شو په کمپیوټر باندي لیکل شوي پایل کي په اسانی سره تغیر راولو او په پایل کي موجوده (Data) یا معلومات (Edit) یا سم کړو په داسي حال کي چي په پاڼه باندي لیکل شوي پایل کي د تغیر راوستلو لپاره په بله پاڼه د نوي پایل د لیکلو ضرورت وي .

## د کمپیوټر کمزورتیاوي *Weakness of Computer*

کمپیوټر یو ماشین دی او نه شي کولی چي هر ډول کار ترسره کړي لکه د انسان په شان. کمپیوټر ته باید (Instruction) یا لاربښووني ورکړل شي تر څو یو کار ترسره کړي او نه شي کولی چي پرته له ( Program) یا لاربښوونو کومه دنده ترسره کړي .

**(Dependency)** یا تکیه کول : کمپیوټر د انسان د انسترکشن یا لاربښوونو په واسطه عمل ترسره کوي نو له همدي امله دا په انسان پوري تړلی یا په انسان باندي تکیه کوونکی ماشین دی .

**(Environment)** یا چاپیریال : ددي ماشین د استعمالولو چاپیریال باید له دوړو یا (Dust) څخه پاک وي .

**(Felling)** احساس یا حس کول : کمپیوټر احساس نه لري او نه شي کولی چي د انسان په شان د تجربي ، علم ، او ذایقي له مخي یو شی وپیژني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کمپیوټر استعمال   Using of Computer



**(In Business)** په تجارت کې : کمپیوټر د تجارت په برخه کې د مالي محاسباتو لکه دبودیجي یا (Budgets) معلومول ، تجارتي اعلانات، د پیریدونکو یا (Customers) ډیتابس جوړول او په (Stack) یا ګودام کې د موجوده موادو ساتنه او حفاظت او داسي نورو دندو لپاره استعمالیږي .




**(Banking)** یا بانکداري : نن ورځ بانکونه په مکمل یا (Complete) ډول په کمپیوټر پوري تړلي دي . چي د خپلو پیریدونکو لپاره لاندي اسانتیاوي برابروي (Online accounting) په دي اکاونټ کي ترسره کیدونکي کارونه عبارت دي له . په اکاونټ کي دموجوده پیسو مقدار معلومول ، پیسي ذخیره کول ، پیسي حواله کول ، او همدارنګه د پیسو راکړه ورکړه ترسره کیږي . (ATM) په بانکي برخه کي دا یو اتومات ماشین دی چي له بانک سره وصل وي چي دخپلو پیریدونکو لپاره دبانک سره معامله اسانه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(Education)** یا تعلیم : کمپیوټر د پوهنې په برخه کې زیاتې اسانتیاوې برابروي لکه . د شاګردانو لپاره نوم لیکنه او د هغوئ لپاره حاضري برابرول ، او هغوئ لپاره یو ډیټابس جوړول چې دهغوئ لاس ته راوړنې په کې ذخیره یا وساتل شي او داسې نورو ډیرو برخو لپاره استعمالیږي .





**(Marketing)** یا بازار موندنه : کمپیوټر دبازار موندنې په برخه کې د تجارت یا بازار موندنې لپاره د اعلاناتو جوړولو او خپرولو لپاره او همدارنګه د (Online) یا انټرنیټ له لارې د اخستلو او خرڅولو لپاره او داسې نورو برخو کې استعمالیږي .



**(Health care)** یا دصحت ساتل : کمپیوټر د صحت په برخه کې په لاندې ځایونو کې استعمالیږي لکه . مریضانو ته د درمل یا (Drugs) ورکولو په ځای کې ، د مریضانو ریکارډ ساتلو لپاره ، د درملو د ختمیدلو یا (Expire Date) معلومولو لپاره ، د مختلفو ناروغیو خیړل او د ناروغۍ علت یا وجه معلومول ، د مختلفو ټیستونو کول او د هغې ریپوټ برابرول ، د جراحې عملیاتو ترسره کول او داسې نورو برخو لپاره استعمالیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(Engineering Design)** یا انجینري نقشي : په دي برخه کي کمپیوټر د ډول ډول شیانو د نقشو یا ډیزاین کولو لپاره استعمالیږي لکه د ودانیو په برخه کي د ودانیو لپاره تصویران او نقشي برابرول او د هغو (Edit) کولو او سمولو ، د مزدورانو ، سامان ، او داسي نورو شیانو یا موادو لپاره (Database) یا د معلوماتو ذخیره جوړول او داسي نورو شیانو لپاره استعمالیږي .




**(Military)** یا فوج : اوس مهال کمپیوټر په فوجي او دفاعي برخه کي په ډیره زیاته اندازه استعمالیږي لکه . عصري یا (Modern) ټانکونه ، مزایل او داسي نورو وسلو کنټرول یا اداره کول ، د (Drone) یا بي پیلوټه کمرو او الوتکو کنټرول ، د چاپو وهلو لپاره پلان جوړول ، د فوجیانو سره خبرو کولو ،پیغام استولو ، ویډیو کنفرانس او داسي نورو ډیرو برخو کي استعمالیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(Government)** یا دولت : د دولت یا هیواد په سطحه کمپیوټر په زیاتو برخو کي په کار وړل کیږي یا استعمالیږي چي ځیني یي په لاندي ډول ذکر شوي لکه . د مالیاتو یا بودیجي معلومول ، د ووټ یا رایه ورکوونکو لیست جوړول ، د برقي یا (Electronic) تذکرو او پاسپورټونو جوړول ، د هوا حالات معلومول او داسي نورو زیاتو برخو کي کمپیوټر مهم رول یا نقش لوبوي .

## *Computer Generation* د کمپیوټر تولید




**(Generation)** یا نسل د کمپیوټر په اصطلاح کي په ټکنالوژۍ کي د بدلون له راتللو څخه عبارت دی . او همدارنګه له دي څخه یادونه کوي چي په مخکي یا تیر وخت کي کمپیوټر څنګه وو او څه ډول استعمالیدو په تیره زمانه کي جینریشن په هارډویر (Hardware) کي د بدلون راتلل او یا پرمختګ ورکولو څخه عبارت وو . خو په اوس وخت یا اوس مهال جینریشن کي (Hardware) او (Software) دواړه برخي چي ټول کمپیوټر ورڅخه جوړ شوی دی شاملي دي . له پخوا څخه تر نن وخت پوري مونږ د کمپیوټر په برخه کي (5) جینریشن لرو چي هر جینریشن د کمپیوټر په (Processor) یا عملیه کوونکی چي د هارډویر یوه برخه ده په هغه کي د پرمتګ له امله طبقه بندي شوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په لاندي جدول کي هر يو جينريشن له خپل تاريخ او په پروسيسور کي له ځانګړي بدلون يا پرمختګ راتللو سره تشريح شوی .

| Generation Number | Generation Date | Processor in use |
|---|---|---|
| 1 | 1946-1959 | Vacuum Tube |
| 2 | 1959-1965 | Transistor |
| 3 | 1965-1971 | Integrated circuit |
| 4 | 1971-1980 | VLSI micro processor |
| 5 | 1980-Today | ULSI micro processor |

## د کمپيوتر ډولونه *Types of computer*



**(Personal computer)** شخصي کمپيوتر : دا کمپيوتر په يو وخت کي يو کس يا يو (User) کولی شي استعمال يي کړي چي بنه او قوي مايکرو پروسيسور لري . چي په دوه (Styles) يا شکلونو کي راځي چي عبارت دي له (PC) او (Mac) څخه دا ډول کمپيوتر چي په تجارت ، تعليم ، انترنيت ، ساعت تيری لپاره ګيم کول ، صحت يا روغتيا او داسي نورو برخو کي استعماليږي يا کار تري اخستل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




**(WorkStation)** دا ډول کمپیوټر هم په یو وخت کي د یو (User) یا کس د استعمالولو وړتیا لري . خو دشخصي کمپیوټر په پرتله قوي او تیز مایکروپروسیسور لري چي د انجنیري کارونو په برخه کي تري کار اخستل کیږي .




**(Mini Computer)** دا ډول کمپیوټر په یو وخت کي د سلګونه (Users) یا استعمالوونکو لپاره د استعمال وړتیا لري .



**(Mainframe)** دا ډول کمپیوټر هم لکه د میني کمپیوټر په شان په یو وخت کي د سلګونه استعمالوونکو لپاره د استعمال وړتیا لري خو د سافټویر ټکنالوژي یې له میني کمپیوټر سره توپیر لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(Supper Computer)** دا يو زيات تيز او لوی کمپيوټر دی چي په سلګونه ميليونه (Instruction) يا لار ښوونې په يوه ثانه يا سيکنډ کي (Process) کولی يا چلولی شي چي د هوا حالاتو دمعلومولو لپاره ، هستوي انرژی دپلټلو لپاره او داسي نورو غټو کارونو او دندو د ترسره کولو لپاره تري کار اخستل کيږي .

## *Computer Function* *د کمپيوټر دندي*

Hashamee

تول **(Digital)** يا عصري کمپيوټرونه لاندي (5) دندي يا وظيفي ترسره کوي تر څو لومړني معلومات يا (Input) شوي ډيټا ګټورو معلوماتو (Information) يا (Output) ته تبديل کړي تر څو د (User) يا د کمپيوټر استعمالوونکي لپاره د پوهي او استفادي وړ وګرځي چي عبارت دي له .




- **(Input)** يا د ډيټا اخستل : دا هغه پروسه يا مرحله ده چي په دي مرحله کي (Data) يا لومړني معلومات او (Instruction) يا لاربښووني کمپيوټر ته دا خيليږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **(Data Storage)** یا د معلوماتو ذخیره کول : په دي مرحله کي کمپیوټر هغه (Data) یا لومړني معلومات چي کمپیوټر ته د (Input) په مرحله کي ورکړل شوي له ځان سره (Store) یا ذخیره کوي تر څو پروسیس ته اماده شي .

- **(Data processing)** یا په ډیټا عملیه ترسره کول : په دي مرحله کي کمپیوټر هغه ته په ورکړل شوي ډیټا باندي ریاضیکي او منطقي عملیي ترسره کوي تر څو ورکړل شوي لومړني معلومات یا (Data) وروستیو او ګټورو معلوماتو یا (Information) ته تبدیل کړي .

- **(Output)** یا د معلوماتو را اخستل : په دي مرحله کي کمپیوټر خپل (User) یا استعمالوونکي ته تولید شوي ګټور معلومات یا (Information) د فرینټ ، سکرین ته دکتلو او یا د همداسي نورو لارو وړاندي کوي یا ورکوي .

- **(Control the work flow)** یا د ټولو کړنو کنټرول : په دي مرحله کي یا د کمپیوټر دا برخه پورته ټولو مرحلو ته لارښوونه او د هغو کنټرول ترسره کوي تر څو دغه مرحلي په سمه توګه پرته له کومي ستونزي ترسره شي .

## *Computer Components* د کمپیوټر برخي

**Input Unit** ورکړیزي برخي: دا د کمپیوټر هغه برخي دي چي د هغو په واسطه (User) یا استعمالوونکی کولی شي چي کمپیوټر ته ډیټا داخل کړي او همدارنګه د کمپیوټر دا برخي د استعمالوونکي او کمپیوټر تر منځ د معلوماتو د داخلولو لپاره رابطه جوړوي ټول

(Input Devices) یا ورکړیز وسایل ورکړل شوي معلومات د کمپیوټر لپاره د پوهیدلو وړ شکل ته بدلوي . چي ځیني مهمي برخي یي په لاندي ډول ذکر شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Keyboard** کیبورډ یوه عامه او مشهوره اینفوټ اله ده چې د هغې په واسطه مونږ کمپیوټر ته معلومات داخلولی شو. کیبورډ په معمول ډول د لیکلو لپاره استعمالیږي خو په کیبورډ کې ځیني داسي بټني شته یا موجودي دي چې د ځانګړو وظیفو د سرته رسولو لپاره استعمالیږي . اوس مهال دوه ډوله کیبورډ موجود دي (Wireless) یا بې مزیي اوبل (Wired) یا مزی لرونکي او همدارنګه کیبورډ دوه سایزه لري چې یو یې (84) بټني او بل یې (101) اویا (102) بټني لري خو په اوس وخت کې د (104) او یا د (108) بټنو درلودونکی کیبورډ هم منځ ته راغلی . چې لاندي برخي یا بټني لري.



**(Typing key)** یا د لیکلو بټني چې عبارت دي له (A-Z) پوري توري او له (0-9) اعداد په کې شامل دي .

**(Numeric keypad)** نمبر لرونکي بټني چې ددي بټنو په واسطه

مونږ کولی شو کمپیوټر ته اعداد لرونکي ډیټا داخل کړو چې دا بټني په مجموع کې یو سیټ د (17) بټنو دی چې په کالکولیټرو او نور د حساب په ماشینونو کې هم استعمالیږي .

**(Function key)** وظیفوي بټني دا بټني د یوي خاصي وظیفي د سر ته رسولو لپاره استعمالیږي چې د کیبورډ په اول قط کې ځای پر ځای شوي دي چې په اوس مهال کیبورډونو کې (12) داني موجودي دي چې عبارت دي له (F1-F12) پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(Control key)** کنټرولوونکي بټني چي د سکرين پر مخ د کرسر د کنټرولولو او دسکرين د کنټرول لپاره استعماليږي چي عبارت دي له په Right يا ښي طرف کي ځلور غشی لرونکي بټني او همدارنګه (Insert,Home,End,Delete,Pageup,Pagedown,Ctrl,Alt,Esc)

**(Special purpose key)** خاص هدف لرونکي بټني . کيبورډ د پورته ذکر شوو بټنو تر څنګ ځيني خاص هدف لرونکي بټني هم لري چي د خاص هدف لپاره استعماليږي لکه (Numlock,Capslock,Shift,Enter,PrintScreen,Tab,Spacebar)

***Mouse*** موس يا موږک چي نوم يي له شکل څخه اخستل شوی ځکه چي موږک ته ورته شکل لري او هغه کيبل يا مزی چي د هغه په واسطه له کمپيوټر سره وصل کيږي د موږک لکۍ ته ورته دی خو اوس مهال دوه ډوله موس موجود دي چي يو يي (Wireless) يا بي مزي اوبل يي (Wired) يا مزی لرونکي دي. موس يوه اشاره کوونکي او د کمپيوټر د سکرين پر مخ د کرسر يا فواينټر د کنټرولولو لپاره يوه مشهوره وسيله ده . چي په خپل منځ کي د يو کوچني بکس او بال درلودونکي ده چي ددی په واسطه د موس حرکات حس کيږي او کله چي د موس بټن کليک شي يا ووهل شي (CPU) يا مرکزي پروسيس کوونکي واحد ته سيګنل استوي . په عمومي ډول موس دري بټني لري چي يوه يي (Right) يا ښي طرف او بله يي (Left) يا چپ طرف اوهمدارنګه ددي دواړو بټنو تر منځ يو (Wheel) يا ټاير لري . چي د چپ طرف بټن د يوي برخي د انتخابولو لپاره ، ښي طرف بټن د يو پايل سره د ټرلو افشنو ليست راتللو لپاره او همدارنګه ټاير يي د يوي صفحي ښکته پورته بيولو لپاره استعماليږي .



موس ددي لپاره استعماليږي تر څو دسکرين پر مخ د فواينټر موقعيت وښايي او د هغه کنټرول ترسره کړي او همدارنګه مونږ نه شو کولی چي موس د کيبورډ په شان د ليکلو لپاره استعمال کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موس ګټي په لاندي ډول دي .**

- استعمال يي اسان دى
- قيمت يي لږ دى مقصد ډير ګران نه دى
- د کيبورډ د (Arrow key) او ټچ په نسبت (Pointer) يا اشاره کوونکي ته ډير تيز يا په سرعت سره حرکت ورکوي.



***Joystick*** جايسټيک دا (Device) يا اله هم د موس په شان يا موس ته ورته وظيفه ترسره کوي چي په زياته اندازه د (CAD) په نوم سافټوير چي د ډيزاين لپاره تري کار اخستل کيږي استعماليږي او ددي تر څنګ د کمپيوټري ګيمونو د کولو او کنټرولولو لپاره استعماليږي. چي جوړښت يي په دي ډول دى دا يو سټيک دى چي يو بال يي په لاندي سر کي چي د بکس په منځ کي وي او بل بال يي په پاس سرکي موجود دى يا لري يي او همدارنګه څلورو خواوو ته حرکت کولى شي .



***Light pen*** دا هم يوه اشاره کوونکي وسيله يا اله ده چي قلم ته ورته شکل لري او د سکرين پر مخ د يوي برخي د انتخابولو او د سکرين پر مخ د تصوير رسمولو لپاره استعماليږي دا يو تيوب دى چي په خپل منځ کي يوه برقي سترګه يا لايټ لري چي د هغي په واسطه تشخيص يا ليدنه کوي. کله چي د لايټ فين څوکه د سکرين پر مخ حرکت وکړي او بټن يي کليک شي په لايټ فين کي موجوده سينسر يا حس کوونکى د سکرين هغه برخه يا (Location) معلوموي او CPU ته يي سيګنل استوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Track ball** دا یوه Input اله ده چي په زیاته اندازه په (Note book) او (Laptop) کمپیوټرونو کي د موس په ځای استعمالیږي. دا یو نیم دننه شوی بال دی چي په دغه بال باندي د ګوتو د حرکت له امله فواینټر حرکت کوي او همدارنګه دا اله له موس څخه لږ ځای ته ضرورت لري دا ځکه چي فواینټر ته دحرکت ورکولو لپاره د موس په شان حرکت نه ورکول کیږي او یواځي د بال په سر د ګوتو د کشولو یا حرکت له امله فواینټرحرکت کوي (Track ball) په مختلفو شکلونو کي راځي لکه . بال ته ورته شکل ، بتن او یا هم مربعي شکل لري .




**Scanner** سکینر دا هم یوه (Input) یا ورکړیزه اله ده چي د فوټوکاپی د ماشین په شان کار کوي. ددي الي استعمال ددي لپاره دی کله چي ډیټا د پاني پر مخ موجوده وي او مونږ غواړو چي د لا زیات سمبالښت لپاره یي د کمپیوټر هارډ ډیسک ته واستوو . سکینر د موجوده سرچیني څخه تصویر او یا نوره ډیټا اخلي او (Binary) یا د اعدادو شکل یا (0) او (1) ته یي بدلوي یا (Convert) کوي تر څو په هارډ ډیسک کي (Store) یا ذخیره شي .



**Digitizer** دا هم یو Input اله ده چي ډیټا باینري یا د اعدادو شکل ته اړوي لکه. (Analog) سیګنل (Digital) ته بدلول یا اړول او داسي نور .

(c) ketabton.com: The Digital Library



***(Micro phone)*** دا هم یوه (Input) یا
ورکړیزه اله ده چي (Sound) یا اواز او
خبري په باینري یا د اعدادو په شکل کي
کمپیوټر ته داخلوي .




***Magnetic ink card reader MICR***
دا یوه Input اله ده چي په خاصه توګه
په بانکونو کي د پیسو په چیک یا ټیکټ
باندي د پروسیس کولو لپاره استعمالیږي
او همدارنګه دا ددي لپاره استعمالیږي
چي له غلطیو څخه پاکه او ډیره تیزه اله
ده.



***Optical character reader OCR***

دا هم یوه Input وسیله ده چي پرینټ
شوی (Text) توري یا لیکنه سکین کوي
او باینري یا د اعدادو شکل ته یي اړوي
تر څو په میموري کي سټور یا ذخیره
شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***Barcode Reader*** دا هم یوه Input اله ده چي د بارکوډ شوي ډیټا د لوستلو یا (Read) کولو لپاره استعمالیږي. بارکوډ شوي ډیټا عبارت ده له هغه ډیټا څخه چي د سپینو یا (Lights) او تورو یا (Darks) کرښو په شکل (Save) یا ذخیره شوي وي . دا اله د بارکوډ لیبل یا تصویر سکین کوي او د تورو او اعدادو شکل ته یي اړوي چي بیا د پوهیدلو وړ ګرځي په هغه کمپیوټر کي چي (Barcode Reader) ورسره (Connect) یا وصل وي .




***OMR Optical mark reader***

دا هم یوه سکین کوونکي اله ده چي د قلم او یا پنسل په واسطه جوړي شوي کرښي سکین کوي. دا په خاصه توګه د امتحان په ځواب پاڼو کي د څلور ځوابه پوښتنو د انتخابولو لپاره استعمالیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## *Central Processing Unit* *مرکزي پروسیس کوونکی واحد*




CPU چي د کمپيوټر مغز يا (Brain) هم ورته ويل کيږي په ډيټا باندي هر ډول عمليي ترسره کوي او ورکړل شوي ډيټا او دهغي نتيجه يا (Result) او لارښووني يا (Instruction) له ځان سره ذخيره کوي او همدارنګه د کمپيوټر د ټولو برخو او عمليو کنټرول کوي. (CPU) په خپله (3) برخي لري چي عبارت دي له .

(Arithmetic and Logic Unit(ALU)   (Memory)   او   (Control Unit)

***ALU*** دا د CPU هغه برخه ده چي په ورکړل شوي ډيټا باندي رياضيکي او منطقي عمليي ترسره کوي.

**(Arithmetic)** يا رياضيکي عمليي عبارت دي د له ضرب، تقسيم، جمعه، منفي او داسي نورو څخه

**(Logic)** منطقي عمليي عبارت دي له . دلوی او کوچني عددونو مقايسه ، مساوي او مختلف ، د ډيټا انتخابول او اډيټ کول او داسي نوري عمليي

د CPU په دي برخو يا (ALU) کي ترسره کيږي .

***Memory or Storage Unit*** د CPU دا برخه کولی شي له ځان سره (Instruction) يا لارښووني ډيټا او د هغي نتيجه ذخيره کړي. او کله چي ضرورت شي د CPU دا برخه د کمپيوټر نورو برخو ته معلومات يا (Information) ليږي همدارنګه دي برخي ته . داخلي ، لمړنی ، اصلي ميموری او يا (RAM) هم ويل کيږي . د سفيد ، سايز او ورتيا له مخي دري ډوله ميموري يا ذخيري لري چي عبارت دي له (Cache Memory) ( primary Memory) (Secondary Memory )

Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(دميموري وظيفي)**

- هغه ډيټا او انسترکشن ذخيره کوي چې پروسيس لپاره ورته ضرورت وي.
- د پروسيس منځنۍ نتيجه يا ريزلټ له ځان سره ذخيره کوي.
- د پروسيس وروستۍ نتيجه له ځان سره ذخيره کوي مخکې له دي نه چې (Output) ته ورکړل شي.
- او همدارنګه ټول (Input) او (Output) د ډيټا ليږد راليږد (CPU) ته د (RAM) له لاري ترسره کيږي .

***Control Unit*** د CPU دا برخه د کمپيوټر د ټولو برخو (Operation) يا عمليي کنټرولوي. چې ددي برخي وظيفي په لاندي ډول ذکر شوي دي .

- د کمپيوټر د نورو برخو تر منځ د ډيټا د ليږد کنټرول دی.
- او همدارنګه دا برخه د کمپيوټر نوري برخي کنټرولوي او هغوی ته لار ښوونه کوي.

## *Output Unit راکړيزي برخي*

Output دا هغه وسايل يا الات دي چي د دي په واسطه مونږ کولی شو له کمپيوټر څخه معلومات يا (Information) را واخلو يا يي تر لاسه کړو

دا وسايل د کمپيوټر او د هغه (User) يا استعمالوونکي تر منځ يو لينک يا رابطه ده . او همدارنګه دا وسايل د کمپيوټر له خوانه ورکړل شوي معلومات د استعمالوونکي لپاره د پوهيدلو وړ شکل ته اړوي تر څو يوزر ورباندي پوهه شي او ګټه تري واخلي . دلته څو مهم (Output) وسايل چي په کمپيوټر کي استعماليږي يادونه تري کوو

(Monitors ,Printers ,Graphic plotter) او داسي نور....



Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Monitor** یا سکرین د کتلو یا لیدلو وړ وسیلي ته ویل کیږي چي د کمپیوټر یوه ډیره مهمه اوټپوټ وسیله ده. د یو تصویر کوچنی برخي چي ډاټ یا (Pixel) ورته ویل کیږي را یو ځای شوي او یو مستطیل ډوله شکل یي جوړ کړی چي سکرین یا (Monitor) ورته ویل کیږي . همدارنګه د یو تصویر روښانتیا یا ښه ښکاره کیدل د هغه تصویر د پیکسل تعداد یا شمیر په زیاتوالي پوري اړه لري. چي هر پیکسل بیا د دري رنګونو درلودونکی دی چي له دي رنګونو څخه هر ډول رنګ منځ ته راځي چي عبارت دي له (R.G.B) یا سور ، شین ، او ابي یا اسماني.

دلته دوه ډوله سکرینونه یا (Monitors) موجود دي چي په لاندي ډول دي.

(Cathode Ray Tube(CRT) او (Flat Panel Display)




**CRT** دا سکرین د تصویر له کوچنیو برخو څخه چي پیکسل نومیږي جوړ شوی څرنګه چي د پیکسلونو کوچنیوالی او ډیر والی د تصویر په روښانتیا کي مرسته کوي په دي سکرین کي د یو (e) توري د ښودلو لپا له یو څخه زیاتو پیکسلو ته ضرورت دی تر څو ټول توری وښایي. دا سکرین په یو وخت کي د معلوم نمبر تورو د ښودلو وړتیا لري . څرنګه چي سکرین په (Character box) باندي ویشل کیږي . کله چي مونږ یو توری لیکو هغه د سکرین پرمخ د ځان لپاره یو لوکیشن (Fixed) کوي یا یي نیسي . زیادتره سکرینونه دا وړ تیا لري تر څو په یو وخت کي (80) توري په افقي ډول او (25) لاین توري په عمودي ډول وښایي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(CRT) مانیتور یا سکرین لاندي تاوانونه لري**

- سایز یي ډیر دی یا غټ دی
- او همدارنګه ډیر برق مصرف کوي



***Flite panel Display*** په دي ډول سکرین کي شامل وسایل یا هغه وسایل چي دا ډول سکرین لري عبارت دي له

(Calculator, Laptop computers screen,Vedio Games )

او همدارنګه دا سکرین د (CRT) په نسبت کم یا لږ سایز او لږ برق مصرفوي یا ضرورت ورته لري چي په دوه برخو ویشل شوي




(Emissive Display) دا اله بریښنایي انرژي نوري انرژی ته اړوي لکه .( LED, (TvScreen, Pc Computer Screen او داسي نور یي مثالونه دي.




(Non Emissive Display) دا سکرینونه د اپتیکل اپیکټ په استعمالولو سره له نورو سرچینو څخه (Sunlight) او یا (Light) را اخلي او د تصویر شکل ته یي بدلوي لکه(LCD)

(c) ketabton.com: The Digital Library

***Printer*** **پرینټر** یوه Output وسیله ده چي د پاڼي پرمخ د معلوماتو د چاپ کولو لپاره استعمالیږي. چي په مجموع کي دوه ډوله Printer یا چاپوونکي موجود دي چي عبارت دي له

**Impact یا اغیزه اچوونکی او Non-Impact یا بي اغیزي**

**Impact printer:** یا اغیزه کوونکی چاپګر د پاڼي پر مخ د تورو د چاپولو لپاره په تورو باندي Striking کوي یا لړیږي او د پاڼي پرمخ یي چاپوي. چي ځانګړتیاوي یي په لاندي ډول دي

- قیمت یي لږ یا ازان دی
- ډیر شور کوي
- د ډیر یا غټ چاپ لپاره ګټور دی ځکه چي اقتصادي دی

چي دا پرینټر یا چاپګر هم په دوه ډولو ویشل شوی دی

**Character Printer یا توری چاپوونکی او Line Printer یا کرښه چاپ کوونکی**

**Character printer:** دا پرینټر په یو وخت کي د یو توري د چاپ کولو وړتیا لري چي دا هم په دوه ډوله دی Dot Matrix او Daisy Wheel printer.

**Line Printer:** یا کرښه چاپ کوونکی چي له نوم څخه یي معلومیږي دا پرینټر په یو وخت کي د یو لاین د چاپ کولو وړتیا لري دا هم په دوه ډوله دي

Drum printer او Chain Printer

Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

**None Impact Printer:** یا بي اغیزي پرنټر دا ډول پرینټر په یو وخت کي د یوي پاڼي د چاپ کولو وړتیا لري چي له دي امله ورته Page Printer هم ویل کیږي چي دا پرینټر هم په دوه ډولو ویشل شوي دي.

**Laser printer او Inkjet Printer چي ددي ډول پرینټرو یا چاپګرو ځانګړتیاوي یا** خصوصیات په لاندي ډول ذکر شوي دي

- د اغیزه کوونکي پرینټر په نسبت تیز دی او شور هم نه کوي
- ښه کوالټي یا د چاپ کولو وړتیا لري
- او همدارنګه د مختلف ډول Fonts او د تورو سایز Support یا وړتیا لري



**Laser Printer:** دا پرینټر چي یو بي اغیزي پرینټر دی چي د Laser light په استعمالولو سره د پاڼي پر مخ لیکنه چاپوي چي ښه Speed یا چټکتیا او همدارنګه ښه کوالټي لري.



**Inkjet printer:** دا هم یو بي اغیزي پرینټر دی چي د پاڼي پرمخ د رنګ د کوچنیو څاڅکو په شیندلو سره لیکنه چاپوي چي په اوس وخت کي دا دوه ډوله پرینټر ښه کوالټي لري او همدارنګه ډیر دقیق او چټک دي او د Inkjet printer په واسطه مونږه کولی شو رنګه کاپي هم چاپ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کمپیوټر ذخیرې Computer Memories

د کمپیوټر میموري یا حافضه د انسان د مغزو په شان کار کوي چې Data او Instruction یا لارښووني له ځان سره ذخیره کوي.

کمپیوټر میموري په کمپیوټر کې د ذخیره کولو لپاره Space یا خالیګا ده چې په هغه کې پروسیس شوي ډیټا او همدارنګه هغه ډیټا چې پروسیس کولو ته ضرورت لري Store یا ذخیره کیږي . د کمپیوټر میموري په داخل کې په زیات شمیر کوچنیو برخو ویشل شوي چې هري برخې ته یې Cell یا حجره ویل کیږي چې هر یو Location یا Cell یو خاص ادرس لري چې له صفر څخه شروع کیږي او د میموري په Capacity یا سایز پوري اړه لري .


لکه د مثال په توګه که چیري یو کمپیوټر 64K میموري ولري 64*1024=65536

میموري Location به ولري او همدارنګه ددې میموري Location ادرس به له صفر څخه شروع یعنې 5535—0 پوري حسابیږي مطلب د اصلي عدد څخه چې 65536 دی یو منفي کیږي ا بیا له صفر څخه حساب شروع کیږي تر 5535 پوري ادرس لري . چې په بنیادي ډول د کمپیوټر میموري په دري لاندې برخو ویشل شوي .

**Cache Memory, Main or Primary Memory, Secondary Memory**

Hashamee

5. Cache Memory :



***Cache Memory***: دا یوه تیزه کوچنی او ډیر قیمت لرونکې Semiconductor میموري ده چې CPU ته د چټکتیا ورکولو لپاره استعمالیږي چې د Primary Memory یا RAM او CPU تر منځ د پردې په شکل موقعیت لري یا پرته ده. چې په دې میموري کې د ډیټا او یا پروګرام هغه برخه چې CPU یې بیا بیا ځلي استعمالوي ذخیره کیږي یا ساتل کیږي له ډیسک څخه ډیټا د Operating System یا ویندو په واسطه کیش میموري ته راوړل کیږي او له دې ځایه بیا CPU ته ځي یا CPU له کیش میموري څخه ډیټا Access کوي یا ترلاسه کوي یې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د Cache یا کیش میموري ګټي او تاوانونه په لاندي ډول دي.**

**ګټي:** د CPU لپاره يي د Access Time یا د لاسرسي وخت لږ دی یا CPU لاسرسی ورته اسان دی.

او هغه ډیټا له ځان سره ساتي چي CPU يي د بیو پروسیس په وخت کي بیا بیا ځل استعمال ته ضرورت لري.

**تاوانونه:** د ذخیره کولو لپاره لږ ظرفیت لري یا سایز يي کم دی.

دا یوه Volatile یا بدلیدونکي میموري ده مطلب په هغه صورت کي چي کمپيوټر بند شي دا میموري له ځان سره سټور شوي یا ذخیره شوي ډيټا له لاسه ورکوي .

او همدارنګه دا میموري ډیره ګرانه یا یا د اخستلو لپاره اوچت قیمت لري




***Primary memory or RAM:*** دا ډول میموري یوه Internal یا داخلي او همدارنګه Read/Write میموري ده. دا میموري یا RAM هغه ډیټا او انسټرکشن له ځان سره ساتي په کوم چي اوس مهال کمپيوټر پروسیس یا کار کوي . دا میموري هم لږ ظرفیت لري خو د کیش میموري په نسبت يي ظرفیت ډیر دی او همدارنګه دا میموري هم لکه د کیش میموري په شان Volatile خاصیت لري یعني په هغه صورت کي چي کمپيوټر بند شي له ځان سره سټور شوي ډيټا له لاسه ورکوي یا Lost کوي يي چي له همدي امله ورته Temporary یا لنډ مهالي میموري هم وایي. دا میموري هم یوه Semiconductor میموري ده چي سفيډ يي د کیش میموري په نسبت کم دی چي په دوه برخو ویشل شوي. RAM او ROM چي لاندي ځانګړتیاوي لري.

- دا یوه Semiconductor میموري ده
- Main or internal Memory چي اصلي یا داخلي میموري هم ورته ویل کیږي
- Volatile خاصیت لري یعني کله چي کمپيوټر بند شي ډيټا له لاسه ورکوي
- دا د کمپيوټر لپاره Working یا کاري میموري ده چي سفيډ يي له کیش میموري څخه کم او له Secondary میموري څخه زیات دی .
- او همدارنګه کمپيوټر نه شي کولی چي پرته له دي میموري څخه وچلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***Secondary Memory***: دا ميموري چي د بهرنی یا External ميموري په نوم هم پيژندل کيږي او همدارنګه دا ميموري Non Volatile یا نه بدليدونکی خاصيت لري يعني د کمپيوټر د بنديدو په صورت کي له ځان سره Store شوي يا ذخيره شوي ډيټا له لاسه نه ورکوي او له ځان سره يي د دايم لپاره ساتي چي له همدي امله ورته Permanent Memory يا دايمي ميموري هم ويل کيږي. ددي ميموري Speed يا تيزوالی د RAM په نسبت کم دی خو سايز يي له دي ميموري څخه زيات دی . او همدارنګه CPU نه شي کولی چي په مستقيم ډول له دي ميموري څخه ډيټا ترلاسه کړي بلکي د Input او Output په توګه له دي ميموري څخه ډيټا ترلاسه کوي او ورکوي يي يعني ډيټا له Hard Disk يا Secondary ميموري څخه Primary ميموري يا RAM ته ځي او بيا له هغه ځايه CPU ته ځي . ددي ميموري مثالونه لکه . Disk, CD Rom, DVD او داسي نور....



Hard Disk

**د Secondary ميموري ځانګړتياوي په لاندي ډول ذکر شوي دي**

- دا يوه External يا خارجي ميموري ده
- دا ډول ميموري Magnetic او Optical ميمورياني دي
- دا ميموري د Backup ملاتړي يا کومکي ميموري په نوم هم پيژندل کيږي
- دا يوه Non Volatile يا نه بدليدونکي ميموري ده مطلب ډيټا په دايمي ډول له ځان سره ساتي
- او همدارنګه دا ميموري په کمپيوټر کي د Storage يا ذخيره ګا په توګه استعماليږي
- کيدای شي چي کمپيوټر له دي ميموري څخه پرته هم وچليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کمپيوټر د ميموري واحدات  Computer Memory Units

د ميموري يا Storage د اندازه کولو واحدات :عبارت له هغه مقدار ډيټا يا معلوماتو څخه دی چي يوه ميموري يي له ځان سره Store يا ذخيره کوي. چي په لاندي ډول ذکر شوي دي .

**Bit يا Binary Digit**: دا د کمپيوټر ميموري د اندازه کولو کوچنی واحد دی چي عبارت له (0) او (1) څخه دی چي يا به صفر وي او يا به يو وي چي ON او OFF هم ورته ويل کيږي.

**Nibble :** نيبل: چي څلور بيټ مساوي له يو نيبل سره دي

**Byte** بايټ: چي اته بيټ مساوي دي له يو بايټ سره دي او همدارنګه يو بايټ عبارت دی له يو توري څخه.

چي جدول يي په لاندي ډول دی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| 8 Bits | = | 1 | Byte |
| 1024 Byte | = | 1 | Kilo Byte (KB) |
| 1024 KB | = | 1 | Mega Byte (MB) |
| 1024 MB | = | 1 | Giga Byte (GB) |
| 1024 GB | = | 1 | Tetra Byte (TB) |
| 1024 TB | = | 1 | Peta Byte |

Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کمپيوټر مادر بورډ *Computer Mother Board*




مادر بورډ چې Main board یا عمومي بورډ هم ورته ویل کیږي چې د کمپیوټر ټولې داخلي او خارجي برخې له یو بل سره نښلوي یا وصل کوي

لکه . Hard Drive , Memory ,CPU,Sound Card, Video Card ,Optical Drive او داسې نورې برخې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د کیبل له لارې له یو بل سره وصل کوي . او همدارنګه مادر بورډ ته د کمپیوټر د ملا د تیر نسبت هم کیږي یا ویل کیږي .

مادر بورډ د کمپیوټر دا ټولې برخې ددې لپاره سره وصلوي یا Connect کوي تر څو په منظم او ښه ډول یوه وظیفه ترسره کړي .

مادر بورډ د کمپیوټر د بیلا بیلو برخو یا Components د نښلولو لپاره Ports یا Slots یعنې سوري او ځایونه لري .

لکه. VGA Port, Parallel port , Usb port او داسې نور چې د کیبل په ورکولو یا Plug in په واسطه Connect یا نښلول کیږي .




far Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کمپیوټر دوه لوی برخي Two Big Parts of Computer

د کمپیوټر دوه عمده او لوی برخي چي ټول کمپیوټر ورڅخه جوړ شوی دی عبارت دي له Hardware او Software څخه چي ددي دواړو برخو له یو ځای کیدو څخه کمپیوټر منځ ته راغلی دی .

***Hardware***: د کمپیوټر ټولي فزیکي یا بدني برخي چي کمپیوټر ورڅخه جوړ شوی هارډ ویر ورته ویل کیږي. یا په بل عبارت Hardware دکمپیوټر هغه ټولي برخي چي مونږ یي په لاس نیولی او لمس کولی شو چي دکمپیوټر لاندي برخي په کي شاملي دي .



Input Device: لکه. موس ، کیبورډ ،مایکرو فون او داسي نور......

Output Device: لکه. Monitor یا سکرین ، فرینټر ، سپیکر او داسي نور...

External Storage Device: یا خارجي ذخیري لکه. هارډ ډیسک،ډي وي ډي ،سي ډي ، یو ایس بي ، او داسي نور....


Internal Components: یا داخلي برخي لکه. CPU, Mother board, RAM او داسي نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library




***Software***: سافټویر د پروګرامونو او Instruction یا لار ښوونو مجموعه یا ټولګه ده چي د یوي خاصي وظیفي او یو خاص Problem یا مشکل د حل کولو لپاره د پروګرامرانو له خواجوړیږي لکه. MS Word, Excel, Games, Windows او داسي نور چي په دوه برخو ویشل شوي دي چي عبارت دي له.

## *System Software او Application Software*



***System Software***: دا سافټویر د هغه پروګرامونو مجموعه ده چي ددي لپاره جوړ شوي یا جوړیږي تر څو په خپلواکه توګه یا په خپل سرکمپیوټر وچلوي او کنټرول یي کړي او همدارنګه د کمپیوټر Processing ته وړتیا او پراختیا ورکوي. په عمومي ډول System Software د کمپیوټر جوړوونکو کمپنیو له خوا تیاریږي یا جوړیږي . ددي سافټویر ټول پروګرام په Low Level Language یا ژبه کي لیکل کیږي یا جوړیږي دا ددي لپاره تر څو د هارډویر سره په اساسي ډول تماس ولري .

دا ډول سافټویر د کمپیوټر د هارډویر او User یا د کمپیوټر تر منځ Interface برابروي یا اړیکه جوړوي . د System Software مثالونه لاندي ذکر شوي

Operating System or Windows, Compiler, Interpreter, Assembler او داسي نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د System Software ځانګړتیاوي په لاندي ډول دي**

- د System یا ماشین سره نږدي اړیکه لري
- Speed یا چټکتیا یي زیاته ده
- جوړول یي سخت کار دی
- پوهیدل وربآندي ډیر سخت دي
- ساتنه او تنظیم یي سخت کار دی
- په عمومي ډول په Low Level Language کي لیکل کیږي



***Application Software***: دا ډول سافټویر د یو خاص مقصد او یا یوي خاصي وظیفي د ترسره کولو لپاره جوړیږي. دا سافټویر په کمپیوټر لیب کي د Application Software د کټګوری لاندي جوړیږي . دا ډول سافټویر کیدای شي یو پروګرام وي لکه Notepad چي د ساده لیکني یا اډیټ کولو لپاره استعمالیږي . او یا هم کیدای شي چي د پروګرامونو مجموعه یا ټولګه وي چي Software Package ورته ویل کیږي چي دا پروګرامونه په شریکه یا ګډه توګه کار کوي تر څو یوه وظیفه ترسره کړي لکه Spreadsheet Package او داسي نور....

**ددي ډول سافټویر مثالونه په لاندي ډول ذکر شوي دي**

Payroll Software, Students Record Software, Income Tax Software, Microsoft Office Suite, MS Word, MS Excel, MS PowerPoint او داسي نور....

**د Application Software ځانګړتیاوي په لاندي ډول دي**

- د User یا استعمالوونکي سره نږدي اړیکه لري
- جوړول یي اسان دي ډیر سخت نه دي
- د System software په نسبت لږه چټکتیا لري
- په عمومي ډول په High Level Language کي لیکل کیږي
- پوهیدل وربآندي اسان دي
- سایز یي زیات او زیات Storage ته اړتیا لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هارډویر او سافټویر اړیکه Relationship Between Hardware and Software

- د کمپیوټر هارډویر او سافټویر په یو بل باندي تکیه کوي او همدارنګه دا دواړه باید په شریکه کار وکړي تر څو کمپیوټر یو ښه Output تولید کړي.
- مونږ نه شو کولی چي له سافټویر څخه د هارډویر له ملاتړ یا Support څخه پرته کار واخلو او همدارنګه مونږ نه شو کولی چي له هارډویر څخه د سافټویر له ملاتړ څخه پرته ګټه واخلو
- که چیري مونږ غواړو چي په کمپیوټر باندي یوه خاصه وظیفه ترسره کړو نو د هغه وظیفي د ترسره کولو لپاره ځانګړی سافټویر باید هارډویر ته Load یا اضافه یا انسټال شي.
- د هارډویر اخستل یو ځل لګښت ته اړتیا لري خو تر څنګ یي سافټویر جوړول یا Development ډیر سخت او جاري لګښت ته اړتیا لري
- د مختلفو وظیفو د ترسره کولو لپاره باید مختلف سافټویر هارډویر ته انسټال یا اضافه شي
- سافټویر د هارډویر او استعمالوونکي تر منځ د لینک یا رابطي په توګه کار کوي
- که چیري هارډویر ته د کمپیوټر زړه ووایو نو سافټویر ته یي روح ویلی شو مقصد دواړه په پوره ډول په یو او بل پوري تړلي دي.

## د کمپیوټر د اعدادو یا شمیر جوړښت Computer Number System

کله چي مونږ یو توری یا یوه کلمه لیکو نو کمپیوټر دغه توري د اعدادو شکل ته اړوي ځکه چي کمپیوټر یوازې په اعدادو یا Binary System (0) او (1) باندي پوهیږي . چي په لاندي ډول ذکر شوي دي.

**Binary Number System**: په دي سیسټم کي دوه اعداد استعمالیږي چي بنسټ او قاعده یي په (2) اعدادو ولاړه ده چي عبارت دي له (0) او (1) څخه.

**Octal Number System**: په دي سیسټم کي اته عددونه استعمال شوي چي بنسټ او قاعده یي په (8) عدد ولاړه ده چي عبارت دي له (0,1,2,3,4,5,6,7)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Decimal Number System**: دا د هغه اعدادو سیستم دی چي مونږ یي په ورځني ژوند کي استعمالوو چي په دي سیستم کي لس اعداد استعمال شوي چي عبارت دي له (0,1,2,3,4,5,6,7,8,9) څخه

**Hex Decimal Number System**: په دي سیستم کي چي قاعده یي په (16) اعدادو ولاړه ده لس اعداد او شپږ توري په کي شامل دي

چي عبارت دي له (0,1,2,3,4,5,6,7,8,9 A,B,C,D,E,F) څخه

## *Convert Decimal to binary and binary to Decimal* د اعدادو بدلول

د مثال په توګه که چیري مونږ غواړو چي (29) عدد چي یو Decimal عدد دی او غواړو چي دا عدد Binary یا د کمپیوټر لپاره د پوهیدلو وړ اعدادو (0) او (1) ته واړوو نو ددی عمل د ترسره کولو لپاره باید لاندي مرحلي ترسره کړو.

(1) راکړل شوی عدد چي (29) دی . د بایئري عدد چي قاعده یي (2) ده

یعني راکړل شوی عدد (29) په (2) تقسیموو او د هر یو Step یا مرحلي باقي مانده له ځان سره لیکو . او کله چي د ټولو عملیو په اخر کي یو عدد باقي پاتي شي د هغه باقي مانده په شمول د پورته تیر شوو ټولو مرحلو باقي مانده عددونو سټ د راکړل شوي Decimal عدد بایئري شکل دی .لکه په لاندي جدول کي چي دا عمل ترسره شوی دی

| مرحلي | عملیه | نتیجه | باقي مانده |
|---|---|---|---|
| 1 مرحله | 29/2 | 14 | 1 |
| 2 مرحله | 14/2 | 7 | 0 |
| 3 مرحله | 7/2 | 3 | 1 |
| 4 مرحله | 3/2 | 1 | 1 |
| 5 مرحله | 1/2 | 0 | 1 |

په پورته باقي مانده کالم کي ټول موجوده اعدادو سټ یعني (1.0.1.1.1) د راکړل شوي Decimal عدد بایئري شکل دی. چې په پورته باقي مانده کالم کي راکړل شوی لومړی باقي مانده په ښي طرف کي اول بیا دوهم باقي مانده دوهم او همدغسي دوام ورکوو تر څو دغه سیټ ترتیب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(2)  او اوس غواړو چي د مثال په ډول همدغه راکړل شوی یا لاس ته راغلی باینري عدد Decimal ته واړوو ددي عمل د ترسره کولو لپاره لاندي مرحلو ته ضرورت دی . لکه څنګه چي ویل شوي په باینري سیستم کي (0) د OFF او (1) د ON په معنا دی نو له همدي ځایه لومړی د باینري عدد قاعده چي (2) دي د طاقت په شکل لیکو او بیا یي د راکړل شوي باینري شکل یا عدد په واسطه ON او OFF معلوموو او بیا یي ON برخي سره جمعه کوو تر څو د راکړل شوي باینري عدد Decimal شکل لاس ته راوړو لکه په لاندي ډول  چي دا عمل ترسره شوی دی .

| $2^8$ | $2^7$ | $2^6$ | $2^5$ | $2^4$ | $2^3$ | $2^2$ | $2^1$ | $2^0$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 256 | 128 | 64 | 32 | 16 | 8 | 4 | 2 | 1 |
| | | | | 1<br>ON | 1<br>ON | 1<br>ON | 0<br>OFF | 1<br>ON |

(29) = 16 + 8 + 4 + 1

## د کمپیوټر ډیټا او معلومات  *Computer Data and Information*

**Data**: مونږ کولی شو ډیټا په دي ډول تعریف کړو. د حقیقتونو ، نظریو، او لاربښوونو وړاندي کول . او یا په بل عبارت لومړنیواو خامو موادو او یا معلوماتو ته چي لا پروسیس ته اړتیا لري ډیټا ویل کیږي.چي عبارت دي له توري ، اعداد ، سمبولونه ، تصویر ، اډیو ، ویډیو او داسي نور د ډیټا مثالونه دي.



Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Information**: معلومات یوه اداره شوي او منظم شوي ډیټا ده چي د ترلاسه کوونکي لپاره په پوره معنا د پوهیدلو وړ وي. او همدارنګه Information هغه ډیټا ده چي مختلف ډول مراحل او پروسیس وربانديي ترسره شوی وي او پوره معنا لرוونکي او د پوهیدلو وړ وي د User یا استعمالوونکي لپاره. لکه په لاندي مثال کي چي یادونه شوي.

| | |
|---|---|
| 4 Information | = 2+2 خام مواد یا لومړنی ډیټا |


## Data Processing Cycle د ډیټا د پروسیس جریان

کمپیوټر ته په ورکړل شوي ډیټا باندي د پروسیس سیکل عبارت دی له

**Input Data + Processing = Output or Information**

- د Data processing Cycle: په لومړنۍ مرحله کي چي د استعمالوونکي یا User له خوانه ډیټا کمپیوټر ته داخلیږي دي مرحلي ته Input یا وراچول او ورکول ویل کیږي.
- د Data Processing Cycle: په دوهمه مرحله کي کمپیوټر په ورکړل شوي ډیټا باندي پروسیس کوي او مختلف ډول عملیي وربانديي ترسره کوي تر څو د یوزر لپاره د پوهیدلو وړ شکل یا Information ته یي واړوي چي دي مرحلي ته Processing ویل کیږي.
- د :Data processing Cycle: په دریمه مرحله کي کمپیوټر خپل تولید شوي Information یا معلومات چي د تیرو دوه مرحلو په واسطه لاس ته راغلي استعمالوونکي یا User ته یي ورکوي چي دي مرحلي ته Output ویل کیږي.

**Data Processing Cycle**



(c) ketabton.com: The Digital Library

## *Computer Networking* د کمپیوټر انټرنیټ




**Internet**: دا یوه نړیواله شبکه ده یا هغه سیستم دی چې په کې زیات شمیر کمپیوټر له یو او بل سره وصل یا Connect کیږي تر څو معلومات او سرچینې له یو بل سره شریک یا Share کړي.

د کمپیوټر نیټورک ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي .

- له یو کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته د معلوماتو او سرچینو شریکول.
- یو پایل په یوکمپیوټر کې سټور وي او د نورو کمپیوټرونو څخه هغه پایل ته لاسرسی پیدا کول.
- کله چې له یو کمپیوټر سره Scanner, Printer, Fax Machin وصل وي نو د انټرنیټ له لارې نور کمپیوټرونه هم کولی شي له دې وسایلو څخه استفاده وکړي.
- د کمپیوټر نیټورک لپاره لاندې وسایل ضروري دي.

**External and Internal Network Card, Router, Distributer**

Jafar Hashamee



**Network Cable**: کیبل ددې لپاره استعمالیږي تر څو کمپیوټرونه له یوبل سره Connect یا وصل کړي چې په دې برخه کې زیا استعمالیدوونکی کیبل RJ-45 دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Distributer**: کله چي مونږ يو کمپيوټر له بل سره وصل کوو د Serial port له لاري يي وصل کوو خو که کله وغواړو چي ډير کمپيوټرونه له يو او بل سره وصل کړو نو

Serial port بيا دا کار نه شي ترسره کولی. نو ددي ستونزي د حل لپاره يوي مرکزي باډي يا Distributer ته ضرورت دی چي ددي لاري بيا کولی شو کمپيوټرونه ، سکينر،پرينټراو داسي نور وسايل وصل کړو چي دغه مرکزي باډي بيا Network Traffic کنټرولوي.




**Router**: دا اله د مرکزي باډي په توګه په انټرنيټ کي استعماليږي چي ددي لاري کمپيوټرونه او نور وسايل له يو او بل سره وصل کيدلی شي. همدارنګه دا اله د يادو وسايلو د وصل کولو لپاره خپل سوري لري چي Ports ورته ويل کيږي چي کمپيوټر او نور وسايل له Router سره د Network Cable په واسطه وصل کيږي . خو په اوس زمانه کي داسي روټر هم موجود دي يا راغلي دي چي کمپيوټرونه او نور وسايل پرته له کيبل څخه هم ورسره وصل کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Network Card**: دا د کمپیوټر یوه مهمه برخه ده چي پرته له دي څخه یو کمپیوټر نه شي کولی چي له انټرنیټ سره وصل شي او همدارنګه دا اله یا برخه د نیټورک برابروونکي یا Network Interface Card(NIC) په نوم هم پیژندل کیږي زیادتره کمپیوټر خپل نیټورک کارډ لري چي په دوه ډوله دي.

**Internal and External Network Card یا داخلي او خارجي نیټورک کارډ**



Internal Network Card: ددي نیټورک کارډ لپاره په مادربورډ کي خپل سوري یا Ports موجود دي چي د هغي لاري Insert کیږي یا داخلږي.



External Network Card: دا نیټورک کارډ په دوه ډوله دي Wireless او USB base

**Wireless**: دا نیټورک کارډ ددي ضرورت لري تر څو مادر بورډ ته داخل شي او همدانګه دا د انټرنیټ سره د وصل کیدلو لپاره کیبل ته اړتیا نه لري.

**USB base**: ددي نیټورک کارډ استعمال اسان دی او له کمپیوټر سره د Usb port له لاري وصل کیږي او کمپیوټر په اتوماد ډول دا کارډ معلوموي او د هغه لپاره ضروري Driver انسټالوي هغه ډرایور چي په اتوماد ډول د انټرنیټ Support کوي یا چلوي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## *Internet and Intranet* انټرنیټ او انټرانیټ



**Internet**: دا یو پراخه نړیوال او معیاري سیستم دی د کمپیوټرو د وصل کولو لپاره او همدارنګه په معیاري Protocol سره چې TCP/IP دی استعمالیږي. په انټرنیټ کې هر یو کمپیوټر په خپل خاص IP ادرس سره پیژندل کیږي .IP ادرس د نمبرو یو خاص ګروپ دی چې مثال یې عبارت دی له (110.22.33.114) څخه کوم چې د کمپیوټر Location یا موقعیت معلوموي او همدارنګه کمپیوټر یو خاص (DNS) Doman Name Server استعمالوي

او دا ددي لپاره استعمالیږي تر څو Name یا نوم IP ادرس ته واړوي نو له همدي لاري User کولی شي چې یو کمپیوټر د Name یا نوم له لاري پیدا کړي. چې مثال یې دا دی

کله چې مونږ Google Search کې ولیکو(https://WWW.Totourilspoint.com)

نو DNS دا پته یو خاص IP ادرس ته بدلوي او بیا د همدي ادرس له لاري هغه کمپیوټر ته ځي په کوم کې چې دا ویب سایټ پروت دی یا موجود دی.

**یادونه: انټرنیټ د هرچا لپاره په ټوله نړۍ کې د لاسرسي وړ دی.**




**Intranet**: انټرانیټ دا یو داسي سیستم دی چې په دي کې معلوم شمیر کمپیوټرونه سره وصل وي او په انټرانیټ کې وصل شوي کمپیوټرونه بهر نړۍ ته لاسرسی نه لري یا هغه کمپیوټرونو ته لاسرسی نه لري چې د انټرانیټ څخه بهر وي.

په معمول ډول هره اداره یا Organization خپل انټرانیټ او غړي لري او همدغه غړي کولی شي چې ددي اداري په انټرانیټ کې موجوده یا وصل کمپیوټرو ته لاسرسی ولري او همدارنګه په انټرانیټ کې هم یو کمپیوټر د خپل خاص IP ادرس له مخي پیژندل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د انټرنیټ او انټرانیټ تر منځ توپیرونه په لاندي ډول دي**

- انټرنیټ په عمومي ډول د ټولي نړۍ د کمپیوټرو لپاره دی خو په مقابل کي انټرانیټ په څو کمپیوټرو پوري تړلی او خاص وي
- انټرنیټ په پراخه او ښه ډول ویب سایټو ته لاسرسی برابروي خو انټرانیټ بیا بندیزونه لري
- انټرنیټ د انټرانیټ په پرتله لږ محفوظیت یا Security لري خو انټرانیټ بیا ډیر زیات محفوظ او Secure دی.

## *Computer Operating System* *د کمپیوټر چلوونکی سیستم*




Operating System یا OS هغه پروګرام دی چي لاندي ځانګړتیاوي لري.

- OS هغه پروګرام دی چي د Hardware او Software ترمنځ د Interface یا نښلوونکي چاپیریال په توګه کار کوي.
- دا هغه سره تړلي او خاص پروګرامونه دي چي د کمپیوټر ټولي سرچیني او عملیي کنټرولوي.
- دا هغه پروګرامونه دي چي په کمپیوټرکي د نورو پروګرامونو چلیدل کنټرولوي لکه Application او نور System سافټویر کنټرولوي.
- د اپریټینګ سیستم کار دا دی تر څو کمپیوټر هوسا اوپه ګټوره توګه کار وکړي
- یوزر ته هوسا او ښه چاپیریال برابروي ترڅو له کمپیوټر څخه استفاده وکړي.
- OS د یو منځګړي په توګه د یوزر او هارډویر تر منځ فعالیت کوي او یوزر ته دا زمینه برابروي ترڅو له نورو سرچینو څخه استفاده وکړي.
- د کمپیوټر ټولي سرچیني اداره کوي او کنټرولوي.
- همدارنګه OS دا معلوموي چي څوک او له کومي سرچیني څخه استفاده کوي او همدارنګه د سرچیني غوښتونکو ته چي مختلف پروګرامونه او یوزران دي د سرچیني ورکولو اونه ورکولو پریکړه او مختلف مشکلات حل کول.
- د یوزر او پروګرام ترمنځ د سرچینو د شریکولو لپاره مناسب چاپیریال جوړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د Operating System یا OS دندې په لاندې ډول دي.

**Memory Management**: ددې معلوموول چې د Primary Memory یا RAMکومه برخه استعمال شوې او د چا له خوا استعمال شوې او کومه برخه یې نه ده استعمال شوې او کله چې یو پروسیس یا پروګرام د میموري غوښتنه وکړي هغه ته میموري ورکول یا برابرول.

**Processor Management**: CPU ته د پروسیس ورکول او یا نه ورکول اداره کوي او کنټرولوي یې.

**Device Management**: د ټولو وسایلو معلوموول چې Input/output کنټرول هم ورته ویل کیږي او همدارنګه دا پریکړه کول چې کوم پروسیس باید Device ترلاسه کړي څه وخت او د څومره Time یا وخت لپاره.

**File Management**: د سرچینو ورکول اونه ورکو او همدارنګه دا پریکړه کول چې څوک دې Resources یا سرچیني ترلاسه کړي.

**Security**: په کمپیوټرکې موجوده ډیټا ته د بې اجازې لاسرسي مخنیوی کول لکه د Password په واسطه او یا د نورو تخنیکونو په واسطه مخنیوی کول.

**Job Accounting**: د هغه وخت او سرچیني معلوموول چې د کوم پروسیس او یا د کوم یوزر له خوا استعمال شوي وي.

**Control Over System Performance**: له سیستم څخه دخدمت د غوښتلو ریکارډ کول یا په یاد ساتل.

**Interaction with Operator**: د OS علم د متقابل عمل کوي چې ځواب یې د سکرین له لارې بنودل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Error Detecting Aid**: د مشکلاتو یا د Error په معلومولو کې مرسته کول چې د Error Message ښودلو او نورو لارو ترسره کیږي

**Coordination Between Other Software and User**: د یوزر او سافتویرو ترمنځ لارښوونه یا یوزر او نورسیستم سافتویرو ته لارښوونه کول لکه. Compiler, Interpreter, Assembler او داسي نور.

## *Types of Operating System* د چلوونکي سیستم ډولونه




زیادتره خلک هغه اپریټینګ سیستمونه استعمالوي چې په نوي اخستل شوي کمپیوټر کې یې له مخکې څخه Install یا نسب وي خو مونږ کولی شو چې انستال شوی OS یا اپریټینګ سیستم

Upgrade او Change یا بدل کړو او پر ځای یې بل OS په خپل کمپیوټر کې انستال کړو.

همدارنګه د Personal Computer یا شخصي کمپیوټر لپاره دري عام OS عبارت دي له

Linux, Apple Mac OS X, Microsoft Window څخه.

عصري یا Modern اپریټینګ سیستمونه په شکلیز ډول کار کوي یا (GUI)

یعني Graphical User Interface دي . چې دا ډول OS تاسو ته دا اجازه درکوي تر څو د موس Pointer یا اشاره کوونکی په یو Icon یا شکل ودروی او کلیک ورباندي وکړی نو تاسو ته به له دي شکل سره تړلي هرڅه د سکرین پرمخ د لیکني او شکل یا تصویر سره ښکاره شي په واضح ډول سره یې بیا تاسو لیدلی شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه عصري GUI اپریټینګ سیستمونه ددي لپاره جوړ شوي یا جوړیږي چي User یا استعمالوونکي ته د کمپیوټر استعمال اسانه او په ښه ډول تري استفاده وکړي.

د GUI – OS د راتلو څخه مخکي کمپیوټرونو Command Line Interface (CMD)

درلودو په دي Interface کي به User هر یو Command بیل بیل لیکلو او په مقابل کي به کمپیوټرونو د ورکړل شوي Command جواب یواځي د Text یا لیکني سره د سکرین پر مخ ښکاره کولو چي بیا له CMD څخه وروسته Microsoft کمپنۍ د (Windows OS) رامنځته کړو.



The Windows GUI

### *OS Microsoft Windows*

د 1980 کال په منځ کي رامنځته شو. چي اوس مهال زیات (Microsoft OS) موجود دي

چي ددي کمپنۍ تر ټولو اوسنۍ یا Recent Version یي (Windows 10) ده چي په (2015) کال کي جوړه شوي ده او همدارنګه (Windows 8) په (2012)

(Windows 7) په (2009) او (Windows Vista) په (2007) کي رامنځته شوي

چي اوس مهال (Recent Version) یا نوی ورژن د PC یا Personal Computer یا شخصي کمپیوټر Smart Phone , Tablet او نورو لپاره ( Windows 10) ده

او همدارنګه د Server Computers لپاره بیا (Windows 2019) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library




***Mac OS X***: دا Operating System هم د OS يوه سلسله ده چې د Apple کمپنۍ له خوا جوړيږي چې په ټولو نوي اختسل شوو Macintosh کمپيوټرونو کې دا OS له مخکې څخه Install يا نسب وي چې مختلف ورژن يي عبارت دي له.

**The OS X GUI**

Mojave. Sep 2018—yosemite.2014—Mountain Lion.2012—Lion.2011

او Snow Leopard.2009 او همدارنګه Apple کمپني هم (Mac OS X Server) د سرور کمپيوټرو لپاره وړاندي کوي . چې په 2014 کال کې د Mac OS X مارکيټ يا استعمال 9.5% وو په داسي حال کې چې Microsoft Windows نيږدي 90% مارکيټ درلوده د Apple کمپنۍ د مارکيټ د کموالي يوه وجه دا وه چې ددي کمپنۍ کمپيوټرونه ډير قيمته يا ګرانبيه وو خو تر څنګ يي بيا ځيني خلک يا وګړي د Mac OS X شکل يا Graphic خوښوي چې د هر چا په ذوق يا خوښي پوري اړه لري.



***Linux***: دا اپريټنګ سيسټم د Open Source له کورنۍ څخه دی يعني هر څوک کولی شي په ټوله نړۍ کې دا OS په Free يا مفت ډول تر لاسه کړي.

د لينيکس کرنل په 1991 کې رامنځته شو او ددې OS مارکيټ په 2014 کال کې له 2% څخه هم کم وو خو په هر حال زيادتره Server Computer همدا يعني لينيکس OS استعمالوي ځکه چې Customize يي اسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***Mobile Operating System***: دا OS په موبايلونو لکه.

Smart Watch, Tablet, Smart phone او داسي نورMobile Devices کي استعماليږي

د Mobile OS مثالونه په لاندي ډول ذکر شوي دي




لکه (Google Android) (Windows Phone) (Apple iOS)

چي ددي OS په واسطه تاسو کولی شی په خپلو موبايلونو کي فلمونه وګوری،

انترنيټ وکاروی ، ګيمونه وربادي وکړی او همدارنګه د جنتري يا Cleanedr Manage

او داسي نور کارونه ترسره کړی . چي مشهور OS يي Windows, iOS, Android دي.



**Android**: دا OS د Google کمپنۍ په واسطه Design شوی يا جوړ شوی دی چي استعال يي خورا يا ډير اسان دی او هغه سيستمونه چي Android OS استعمالوي په ټوله نړی کي يي شمير له يو بيليون څخه زيات دی.



**iOS**: دا OS يو پرمختللی ، هوښيار ، او محفوظ Mobile Operating Systemدی

چي په iPod Touch, iPad, iPhone موبايلو کي استعماليږي.



**Windows**: دا يو محفوظ، ساده او اسان استعمالوونکی OS دی چي

Skype, OneDrive, Outlook په شمول مهمي نقتي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چلوونکي سیستم خدمات OS Services

یو Operating System یا OS د یو پروګرام او یوزر لپاره لاندي خدمات وړاندي کوي.

د پروګرام لپاره د چلیدلو وړ چاپیریال برابروي او همدارنګه د یوزر لپاره داسي چاپیریال برابرو تر څو په کمپیوټر کي د خپلي خوښي پروګرام په ښه او ګټوره توګه استعمال کړي یا ګټه تري واخلي چي ځیني مهم خدمات چي یو OS یي برابروي په لاندي ډول دي.

**Program Execution**: میموري ته د یو پروګرام Load کول، د پروګرام چلول یا Execution ، د پروګرام د چلولو کنټرول، د همهاله پروسیس یا Interrupt لپاره طریقه یا حل لار لټول، د پروسیس د پوهولو لپاره لار برابرول، د Deadlock یا ځنډ او ټکر لپاره طریقه یا لار برابرول او کنټرولول او داسي نور...

**Input/output Operation**: مطلب د Read/Write یا د لیکلو او لوستلو، Delete کولو یا ختمولو، او ایډیټ یا سمون راوستلو لپاره چي هر یو پایل او یا هر یو I/O وسیلي یا Device ته ضرورت شي هغو ته لاسرسی برابروي او کنټرولوي یي

**File System Manipulation**: پایل د یوبل سره تړلو معلوماتو مجموعي ته ویل کیږي. کمپیوټر کولی شي چي پایلونه د ډیر وخت لپاره په Secondary Storage لکه Hard Disk, CD, DVD, او داسي نورو کي ذخیره کړي. OS د پایل Management یا اداره کولو په برخه کي لاندي کارونه ترسره کوي




- مثال کله چي یو پروګرام غواړي چي یو پایل Read او یا Write کړي نو OS پروګرام ته دا اجازه ورکوي تر څو په یو پایل باندي عملیي ترسره کړي.
- او همدارنګه دا اجازت ورکوي تر څو یو پایل یوازي Read یا ولولي او یا همداسي Read او Write دواړه عمل ترسره کړي یعني هم یي ولولي او هم وکولی شي چي تغیر په کي راولي او یا یي ختم کړي.

Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

- OS يوزر ته داسي چاپيريال برابروي تر څو يوزر وکولی شي يو پايل Create او يا Delete کړي او همدارنګه نوملړونه Create/Delete کړي.
- او همدارنګه OS يوزر ته دا اجازهورکوي ترڅو له خپلي ډيټا څخه Backup يا دوهمه کاپي واخلي چي د ډيټا په ساتلو کي مهم رول لري.



**Communication:** OS مختلف ډول Process ته چي د کمپيوټر په داخل کي وي او يا مختلفو کمپيوټرونو ته چي د انټرنيټ له لاري سره وصل يا Connectوي د Communication يا خبرو اترو لار او اړيکه برابروي چي دا کار په دوه طريقو ترسره کيږي.

**Share Memory يا د ميموري په شريکولو سره.**

**Message Passing يا د پيغام په استولو سره ترسره کيږي.**

**Error Handling:** Error يا مشکل هروخت او هر چرته پيښيدلی يا پيدا کيدلی شي لکه په CPU, Memory, Input/output Devices او داسي نورو کي. د مشکل د کنټرول لپاره يو OS لاندي کارونه ترسره کوي.

- OS په منظم ډول Possible Error يا ممکنه مشکل چيک کوي.
- OS د هر ډول سرچينو لپاره تقسيم اوقات برابروي لکه د CPU لپاره. تقسيم اوقات ددي لپاره برابروي تر څو CPU په منظم ډول استعمال شي او بنه کاروکړي يا ترسره يي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Protection**: OS هرډول بې له اجازې لاسرسی کمپیوټرته کنټرولوي او همدارنګه په سیستم کي موجوده ډیټا ته د غیر قانوني یا پرته له اجازې لاسرسي مخنیوی کوي چي دا کار لکه د یوزر لپاره Password او داسي نورو تخنیکونو له لارې ترسره کوي.

## *Threat* تهدید یا خطر

په هر محیط کي هره پیښه چي په پټه او بدمرغۍ سره او غیرقانوني لاسرسی چي په ډیټا کي خرابتیا، افشاکول، او یا بدلون رامنځته کوي او همدارنګه په خدمتونو باندې بندیز لګول د Threat په توګه پيژندل کيږي.

د کمپیوټر Threat ډولونه په لاندې ډول دي.

**فزيکي ويجاړی لکه**: اور،اوبه چټلتیا او داسي نور.

**طبیعي پيښي لکه**: زلزله، اورغورځوونکي فعالیتونه او نور.

**د خدمت له لاسه ورکول لکه**: برق، Airconditio,Telecommunication او نورو تخنیکي وسایلو ناکامیدل لکه په سامان الاتو کي ستونزه په سافټویر کي ستونزه او همدارنګه د ظرفیت یا ذخیرې ډکیدل او داسي نور.

**Deliberates**: لکه جاسوسي او په ډیټا باندې غیرقانوني پروسیس ترسره کول او نور.

د Threat سرچيني لکه Internal او External هغه ځایونه چي Threat ورڅخه منځته راځي.

**Internal یا داخلي لکه:** پيریدونکي، ملګري، قراردادیان،خرڅوونکي او نور.

**External یا خارجي لکه:** انټرنیټي جرمونه، مسلکي هیکران، جاسوسي، زیانمنونکي فعالیتونه لکه Worm, Virus او داسي نور چي خطرناک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Computer Threats د کمپیوټر تهدید کوونکي




**Virus Threat**: دا د کمپیوټر هغه پروګرامونه دي چې د پروګرامرانو له خوا ددي لپاره جوړیږي تر څو د User له اجازي پرته د کمپیوټر نورمال حالت یا Normal Function خرابوي یا ودروي یې او له خطر سره یې مخ کوي.

**Spyware**: دا د کمپیوټر هغه پروګرامونه دي چې د پروګرامرانوله خوا جوړیږي او د User Online یا انټرنیټي فعالیتونه څاري او د User له رضایت یا اجازي څخه پرته د خپلي ګټي لپاره پروګرامونه انستالوي او همدارنګه شخصي معلومات یا ډیټا غلا کوي.




**Hackers**: د ا هغه پروګرامران دي چې نور کاروونکي په خطر کي اچوي یا یې تهدید کوي او د خپلو شخصي ګټو په خاطر د نورو کمپیوټرونو ته ننوزي ددي لپاره چي هلته موجوده معلومات غلا،خراب او یا تغیر په کي راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Phishing Threat**: دا هغه غير قانوني فعاليتونه دي د کومو له لاري چي Phishing Man يا چلبازان کوشش کوي چي د چلبازو ايميلونو او مسيجونو د ليږلو په واسطه د يو شخص يا يوزر شخصي ډيټا غلا کړي.

## *Computer Viruses* د کمپيوټر وايروس




ويروس د کمپيوټر پروګرامونه يا کوډونه دي چي د پروګرامرانو له خوا جوړيږي او ددي وړتيا لري تر څو ستاسو په کمپيوټر کي موجوده ډيټا تر تاثير لاندي راولي او خرابه يي کړي کمپيوټر وايروس هڅه کوي چي ستاسو کمپيوټرونو ته داخل شي او کله چي کمپيوټرته داخل شي پرته د يوزر له اجازي په زيات شمير کاپي کيږي او ټولو پولډرو ته ځان رسوي چي په کمپيوټر کي موجوده ډيټا تر تاثير لاندي راولي.

او همدارنګه وايروس هغه بدنيته او زيانمن پروګرامونه دي کله چي کمپيوټر ته داخل شي نورو پروګرامونو ته سرايت کوي او بدلون ورپه کي راولي او همدارنګه خپل کوډ ورته ورداخلوي . وايروس کولی شي چي د کمپيوټر Data File او Boot Sector او داسي نوري برخي تر تاثير لاندي راولي. چي ځيني کمپيوټر وايروس په لاندي ډول دي

**Worms**: دا د کمپيوټر هغه پروګرامونه دي چي په خپله حرکت کوي او په چټکی سره خوريږي او همدارنګه دا دي ته ضرورت نه لري چي د بل پروګرام يوه برخه شي يا ځان ورپوري ونښلوي دا په خپله زياتيږي او سرايت کوي.

Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Trojan Horse**: دا هم د تخريبوونکو پروګرامونو يوه ټولګه يا مجموعه ده چي په کمپيوټر کي پاتي کيږي او خپل شکل ته بدلون ورکوي او په کمپيوټر کي موجوده نارمل سافټوير يا د سافټوير عادي حالت تر تاثير لاندي راولي دا وايرس په خپله سرايت نه کوي خو دا امکان لري چي دغه وايروس په پروګرام کي پاتي شي او شکل ته يي بدلون ورکړي.

**Bombs**: دا هم د تروجن هارس په شان دی خو دا وايروس بيا ځيني ځانګړتياوي لري او همدارنګه دا په خپل ټاکل شوي وخت او نيټه کي حرکت کوي او خوريږي.

**کمپيوټر ته د وايروس د راتللو لاري او سرچيني**



- له انټرنيټ څخه د ډاونلوډ په صورت کي.
- Removable Storage لکه USB ميموري کارډ او داسي نور.
- Email Attachment له اميل سره تړلي پايلونو له لاري.
- د ناپيژانده سافټويرو او خدماتو استعمال له لاري.
- غيرمحفوظ سافټوير او يا هم د کمزوري پاسورډ له امله.

**څنګه خپل کمپيوټرونه له Threat and Virus څخه وساتو**

د لاندي نقاطو په عملي کولو سره خپل کمپيوټر له Threat او Virus څخه وساتی


- په خپل کمپيوټر کي له Updated Antivirus څخه استفاده وکړی.
- او همدارنګه Updated firewall په استعمالولو سره ځان وساتی.
- هر وخت له خپلي مهمي ډيټا څخه Backup يا کاپي واخلی.
- له انټرنيټ څخه د پروګرامونو د ډاونلوډولو او انستالولو په وخت کي احتياط وکړی.
- د Updated File Encryption Program په انستالولو سره.
- د ايميل لوستلو په وخت کي له ايميل سره تړلي يا زميمه شيانو ته پاملرنه کول.
- خپل ماشومان د انټرنيټ له تهديد او خطر څخه خبر کړی او هغوی ته د خوندي Browsing يا انټرنيټ څخه استفاده کولو لاري چاري ور وښايی..

Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

## • Computer Related Jobs د کمپیوټر سره تړلي دندې

په اوس وخت یا زمانه کې هغه وظیفې چې د کمپیوټر په مرسته ترسره کیږي او یا په کمپیوټر پورې تړلې وظیفې دي او هغه خلک چې دا وظیفې ترسره کوي عبارت دي له.




**Programmer**: هغه کس چې پوره تکړه وي او قانوني پوهه ولري تر څو د کمپیوټر لپاره یو پروګرام ولیکي یا یې جوړ کړي د پروګرامر په توګه پیژندل کیږي.

هغه کوډ یا پروګرام چې د پروګرامر له خوا لیکل کیږي دا د Instruction یا لارښوونو مجموعه ده چې کمپیوټر ته ددې لپاره ورکول کیږي چې کمپیوټر باید څه وکړي ، څنګه یې وکړي ، او کله یې وکړي.

**System Analyst**: دا هغه کس دی چې د یو سافټویر یا سیستم ډیزاین ، Development او Implementingکوي او یا په زوړ او موجوده سیستم کې نور نقاط اضافه کوي تر څو بله یا اضافه وظیفه ترسره کړي.




**Database Administrator**: یا په ساده ډول DBA هغه ترینګ شوی کس دی څوک چې د Database او Storage Management مسول وي.

**Network Administrator**: په یو نیټورک کې د یو کمپیوټر انسټالول، سازول،اوSupport کول لکه Local Area Network او Wide Area Network کې او د انټرنیټ نوري برخې په بیلا بیلو ادارو کې Manage کوي یا تنظیموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Web Designer**: هغه پوهه او معمار کس چي د یو ښه، ګټور او ارتباط لرونکي ویبسایټ د جوړولو وړتیا لري چي هغه په خپل ویبسایټ کي له Contents, Imagesاو معلومات یا Information ځای پر ځای کوي ترڅو د یو یوزر لپاره د خوښي وړ وګرځي.

**Information Security Analyst**: دا یوه ډیره د پام وړ دنده ده چي په دي کي د کمپیوټر Security یا امنیت یا د ټول نیټورک امنیت ساتل کیږي.

### *Windows 8.1 installation from CD* له سي ډي څخه د وینډو انستال

له سي ډي څخه کمپیوټر ته د وینډو د انسټالولو لپاره لاندي طریقي یا مرحلي باید ترسره شي

چي په دي مرحلو کي هغه افشني یا ځایونه چي ستاسو لاسوهني یا ترتیباتو ته ضرورت لري چي په تفصیل سره تاسو ته ښودل شوي دي.


(1) د Windows CD چي د هري وینډوز وي راواخلی که (10-8.1-7) وي د کمپیوټر په CD Drive کي یي په صحیح ډول کیږدی چي دلته مونږ د وینډوز (8.1) انسټالیشن کوو چي په تصویر کي تاسو وینی.




Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

(2) کله مو چي  سي ډي په CD drive کي کېښودله خپل کمپيوټر Restart کړی او کله چي لاندي پرده راښکاره شوه که چيري تاسو Dell کمپيوټر لری F12 او که  Hp لری F9 او همدارنګه که د نورو کمپنيو کمپيوټرونه لری نو بيا هم په پورته دوه بټنو کي له يوي څخه استفاده وکړی چي دلته مونږ Dell کمپيوټر لرو نو د Dell کمپيوټر لپاره د کمپيوټر له Restart څخه وروسته د لاندي پردي په ښکاره کيدلو سره زر تر زره په پرلپسي ډول 3 واري F12 بټن او ورپسي Enter بټن ووهی.





(3) او له پاس پردي څخه وروسته بيا لاندي پرده راځي چي په لاندي پرده چي په وينډوز 8.1 کي د Loading file پرده ده او تا سو بايد انتظار وکړی



(c) ketabton.com: The Digital Library


(4) له پاس پردي ځخه وروسته په لاندي پرده کي په Next کلیک وکړی.




(5) له پاس پردي ځخه وروسته په لاندي پرده کي په Install Now کلیک وکړی
او بیا انتظار وکړی.





(6) په لاندي پرده کي په I accept the license term تیک مارک ولګوی او
بیا وروسته په Next باندي کلیک وکړی.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(7)   په لاندي پرده کي په دوهم کمانډ باندي کلیک وکړی.






(8)   د لاندي پردي په راښکاره کیدلو سره تیره یا زړه وینډوز چي په کوم Drive کي وي هغه Drive انتخاب کړی او بیا وروسته په لاندي برخه کي په Format باندي کلیک وکړی او بیا یي OK کړی.





(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ځو زړه ويندو له منځه لاړه شي او بيا وروسته د خپلي خوښي Drive د نوي ويندو لپاره انتخاب او په Next باندي کليک وکړی چي په لاندي ډول تاسو ته ښودل شوي دي. او وروسته بيا انتظار وکړی چي په دي مرحله کي ستاسو کمپيوټر ځو واري Restart کيږي خو تاسو به لاسوهنه نه کوی او نه به خپل کمپيوټر بندوی او په خپل کمپيوټر کي لاسوهنه مه کوی او خپل سر ته يي پرېږدی تر ځو بلي مرحلي ته ورسيږي چي تاسو ته لاندي په بل ستيف کي ښودل کيږي.











(c) ketabton.com: The Digital Library

(9) لاندي پرده چې د Personalize پرده ده په دي پرده کي تاسو کولی شی د موجوده رنګونو څخه یو انتخاب کړی او همدارنګه د PC name په برخه کي د خپل کمپیوټر نوم ولیکی او یا د خپلي خوښي یو نوم ولیکی او بیا د Next بټن کلیک کړی





(10) په لاندي پرده کي په Use Express setting کلیک وکړی



(c) ketabton.com: The Digital Library

(11) په لاندي برخه کي تاسو د User name په بکس کي خپل نوم او د Password په بکس کي پاسورډ ولیکی او د
Re Enter Password په بکس کي ورکړل شوی پاسورډ بیا داخل کړی او همدارنګه د Password Hint په بکس کي داسي نوم استعمال کړی که چیري پاسورډ ستاسو له ذهن څخه ووځي چي د دغه نوم په لیدلو سره ستاسو ذهن ته خپل هیر شوی پاسورډ راشي.
او وروسته بیا په Finish باندي کلیک وکړی




او بیا انتظار وکړی چي په دي سره به ستاسو ویندوز مکمل شي او تاسو تر هغه پوري انتظار وکړی تر څو لاندي پرده رابنکاره شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

یادوونه: د پورته طریقو په ترسره کولو سره تاسو کولی شئ په خپل کمپیوټر کي وینډوز7-8.1-10 له Windows CD څخه انسټال کړی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## *Windows installation from USB*

د USB له لاري کمپيوټر ته د وينډو انسټالولو لپاره بايد لومړی USB د وينډوز لپاره Boot يا جوړه شي چي د يوي Bootable USB د جوړولو لپاره لاندي دري شيانو ته ضرورت دی تر څو USB د وينډوز لپاره جوړه شي.


- USB چي سايز يي 8GB او يا له دي څخه زيات وي.
- Windows ISO File
- ISO2Disk سافټوير

Windows ISO file: دا پايل مونږ له دوه لارو څخه ترلاسه کولی شواول د انټرنيټ له لاري او دوهم کله چي مونږ غواړو چي Windows iso file په خپله جوړ کړو نو ددي کار د ترسره کولو لپاره دوه شيانو ته ضرورت دی.

- Windows CD
- Ultra ISO سافټوير


د Ultra ISO سافټوير مونږ له دوه لارو څخه ترلاسه کولی شو اول د انټرنيټ له لاري او دوهم د Windows CD له لاري چي اوس مهال دا سافټوير په هره Windows CD کي موجود وي چي د Ultra Iso premium Edition په نوم پولډر کي موجود وي چي انسټالول او استعمال يي په لاندي ډول دی.

(1) په لاندي پرده کي تاسو هغه پولډر وينی چي د Ultra ISO setup په کي موجود دی په دي پولډر باندي ډبل کليلک وکړئ چي خلاص شي.




(c) ketabton.com: The Digital Library


(2) له پاس پردي څخه وروسته په لاندي پرده کي په Setup.exe باندي دبل کليک وکړئ.




(3) په لاندي پرده کي په OK باندي کليک وکړئ





(4)




(c) ketabton.com: The Digital Library


(5)




(6)





(7)




(c) ketabton.com: The Digital Library


(8)




(9)





(10) Finish باندي كليک وكرى




(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپه اخره کي په لاندي ميسج کي په OK باندي کليک وکړ





چي د Ok په کليک کولو سره به ستاسو په کمپيوټر کي Ultra Iso سافټوير انستال شي او لاندي پرده به خلاصه شي . څرنګه چي د Windows ISO پايل د جوړولو لپاره د Ultra iso سافټوير او Windows CD ته ضرورت دی او څرنګه چي Ultra iso سافټوير مو خلاص کړو نو اوس چي تاسو هره Windows CD لرئ خپل کمپيوټر ته يي په صحيح ډول داخل کړئ او د Ultra iso سافټوير په لاندنۍ پرده کي په نبنه شوي شکل باندي کليک وکړئ.چي د CD شکل لري





(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندي پرده کي په Make باندي کليک وکړئ او 20 دقيقي او يا له دي
څخه زيات او يا کم انتظار وکړئ.





د پورته کار په تر سره کولو سره به لاندي کړښه روانه شي او کله چي
دغه کړښه پوره شو تاسو ته به يو ميسج درکړل شي او په دغه ميسج کي
به په NO باندي کليک وکړئ او CD به له کمپيوټر څخه اوباسئ.







(c) ketabton.com: The Digital Library


کله مو چي پورته ټول کارونه یا مرحلي په کامیابۍ سره ترسره کړي نو ستاسو Windows iso file به جوړ شي چي په لاندي طریقه یي پیدا کولی شی. په لاندي برخه کي ډبل کلیک په This pc باندي وکړئ




(2)




(3)



(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته پرده کې ستاسو جوړ شوی ISO پایل ښکاریږي چې تاسو کولی شئ دا پایل هر ځای ته کاپي کړئ. او همدارنګه په دي طریقو سره تاسو کولی شئ له هري Windows CD څخه دهغه ویندوز لپاره ISO پایل جوړ کړئ او د USB په جوړولو کې یي استعمال کړئ.

## *Making Bootable USB for Windows 10-8.1-7*

د USB د جوړولو لپاره تر څو د ویندوز کولو لپاره جوړه یا چمتو شي نو ددي کار د ترسره کولو لپاره 3 شیانو ته ضرورت دی چې په لاندي ډول ذکر شوي دي.

- USB 8GB
- Windows ISO file
- ISO2Disk سافتویر


څرنګه چې پورته ذکر شوي شیانو څخه مونږ دوه شیان چې USB او Windows ISO file چې مخکي مو له Windows CD څخه جوړ کړو .

اوس ددي لپاره چې د Windows ISO file یوزبي یا USB ته لوډ کړو نو ددي کار د ترسره کولو لپا یو سافتویر چې ISO2Disk


نومیږي له انټرنیټ څخه ډاونلوډ کوو چې انستالیشن او استعمال یي په لاندي ډول دی.

(1)ډبل کلیک په لاندي Setup باندي


(c) ketabton.com: The Digital Library




(2)





(4)




(c) ketabton.com: The Digital Library


(5)




Install (6)





Finish (7)




(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي مو پورته مرحلي په کامیابۍ سره ترسره کړي او په پورته پرده کي مو په Finish باندي کلیک وکړو نو ستاسو سافټویر به انسټال شي او لاندي پرده به خلاصه شي په لاندي پرده کي :ISO Image بکس ته د Windows ISO File هغه پایل چي تاسو یي لرئ د هغه د راوستلو لپاره په Browse باندي کلیک وکړئ .





کله مو چي په پورته بکس کي په Browse باندي کلیک وکړو له هغه ځخه وروسته لاړ شئ هغه پولډر ته په کوم کي چي ستاسو سره د Windows ISO file موجود وي هغه پایل انتخاب کړئ او وروسته بیا په Open باندي کلیک وکړئ تر څو ستاسو انتخاب شوی پایل د ISO Image بکس ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کله مو چي پورته کار ترسره کړو نو په دي سره به ستاسو انتخاب شوی Windows ISO File به ISO Image بکس ته راشي چي په لاندي ډول يي ليدلی شی.





کله چي پورته مرحله ترسره شوه بيا خپل کمپيوټر ته USB په صحيح ډول داخل کړی او په لاندي پرده کي په Refresh بټن باندي کليک وکړی تر څو ستاسو داخل شوی USB سايز په لاندي بکس کي ښکاره شي تر څو دا معلومه شي چي ستاسو USB په صحيح ډول داخل شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کله مو چي پورته کار ترسره کړو بیا وروسته په لاندي پرده کي Burn to USB flash Drive ته ټکی On یا ولګوی او وروسته په Start Burn باندي کلیک وکړی.




(c) ketabton.com: The Digital Library

او وروسته په Yes باندي کلیک وکړئ





کله مو چي په پورته پرده کي په Yes باندي کلیک وکړ لاندي کړښه به روانه شي او بیا 20 او یا 30 دقیقي انتظار وکړئ تر څو دا کرښه ور سیړي او ستاسو USB د وینډوز کولو لپاره تیاره شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي پاس کربنه پوره شوه په لاندي پرده کي په OK باندي کلیک وکړی او خپله USB له کمپیوټر څخه اوباسی .




یادوونه : همدارنګ اوس تاسو کولی شی چي ددي USB له لاري هر ځای ،هرکله،او هر کمپیوټر ته ویندوز وکړی . څرنګه چي مونږ دلته د Windows 10 لپاره USB جوړه کړه خو په هر حال د پورته طریقو په عملي کولو سره تاسو کولی شی د هري ویندوز لپاره ځان ته USB جوړه کړی د خپلي خوښي Windows لپاره د هغه Windows ISO file راواخلی او پورته عملیيورباندي ترسره کړی ترڅو ستاسو د USB ویندوز لپاره جوړه شي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

## *Windows 10 Installition from USB*


ددي كار د ترسره كولو لپاره Bootable USB د وينډوز 10 لپاره په كار ده چي مونږ په پورته ډول جوړه كړه چي اوس مهال مونږ سره موجوده ده

د USB له لاري د وينډوز د انسټالولو طريقي په لاندي ډول دي .

خپله د Windows لپاره جوړه شوي USB راواخلئ او هغه كمپيوټر ته يي په صحيح ډول داخل كړئ كوم ته چي وينډوز كوئ يا انسټالوئ كله مو چي USB كمپيوټر ته داخله كړه خپل كمپيوټر Restart كړئ اوپه دغه وخت كي زر تر زره د Dell كمپيوټرونو لپاره F12 او د hp كمپيوټرونو لپاره F9 بټن په پرلپسي ډول څو واري ووهئ تر څو لاندي پرده ښكاره شي كله چي لاندي پرده ښكاره شوه USB Storage Device انتخاب كړئ او وروسته بيا د Enter بټن ووهئ او بيا انتظار وكړئ.





Next (2)




(c) ketabton.com: The Digital Library

Install now (3)





(4) په لاندي پرده کي که چيري ستاسو د کمپيوټر RAM څلور 4GB او يا له دي څخه پورته وي X64 انتخاب کړی او که چيري ستاسو د کمپيوټر RAM له 4GB څخه کم وي X86 انتخاب کړی او وروسته بيا په Next باندي کليک وکړی.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(5) ته تيک مارک ولګوی او بيا I accept the licence term Next






(6) لاندې په Custom : Install باندې کليک وکړی



(c) ketabton.com: The Digital Library


(7) د زړي وینډوز د ختمولو لپاره هغه Drive انتخاب کړی په کوم کي چي زړه وینډوز انستال وي او وروسته بیا په Formate باندي کلیک وکړی او ورسره په OK کلیک وکړی چي زړه وینډوز ختمه شي.







(c) ketabton.com: The Digital Library


(8) په لاندي پرده کي د نوي وينډوز لپاره د خپلي خوښ Drive انتخاب کړی او وروسته په Next باندي کليک وکړی.





او له دي څخه وروسته د لاندي مرحلو د ترسره کولو لپاره کمپيوټر خپل سر ته پرېږدی او تاسو لاسوهنه مه کوی . په دي مرحله کي به ستاسو کمپيوټر څو واري Restart کيږي خو تاسو بايد هيڅ لاسوهنه ونه کړی.




(c) ketabton.com: The Digital Library








او کله چي کمپیوټر خپلي پورته مرحلي په اتوماد ډول اوپه کامیابۍ سره ترسره کړي نو په Windows 10 کي به بیا تاسو ته لاندي پرده ښکاره شي چي په لاندي پرده کي تاسو اول په Do This later باندي کلیک وکړۍ او وروسته بیا په Next باندي کلیک وکړۍ.


(c) ketabton.com: The Digital Library




په لاندي پرده کي په Use Express Setting کلیک وکړی






په لاندي پرده کي د کمپیوټر د استعمالوونکي نوم او پاسورډ ورکړی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


د پورته مرحلو څخه وروسته انتظار وکړئ تر څو ستاسو وینډوز مکمل شي.




(c) ketabton.com: The Digital Library


څرنګه چې په پورته ډول ستاسو د وینډوز انستالیشن پوره شو نو اوس
سکرین ته د خو مهموشیانو Icon لکه Controlpanel, This PC د
راوستلو لپاره لاندي عمل ترسره کړی.
Right click یا د موس ښي طرف بټن ووهی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندي پرده کي د خپلي خوښي وړ شکلونو یا Icon ته تیک مارک ولګوی او په Apply باندي کلیک وکړی او وروسته یي Ok کړی چي په دي سره به ستاسو انتخاب شوي شکلونه ستاسو سکرین ته راشي.




Jafar Hashamee

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ماخذونه Book References


Learn Computer Tutorials 2020 Mobile App (1)
Computer Guide Mobile App (2)
Computer Graphics Mobile App (3)
Computer Basic Mobile App (4)
All about Computer Mobile App (5)


Jafar Hashamee

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**